

# د افت ضد درملو خونديتوب - ساتنه

UC DAVIS
COLLEGE OF AGRICULTURAL & ENVIRONMENTAL SCIENCES

معلوماتي پاڼه

## د افت ضد درملو ساتنه ولي مهمه ده؟




د افت ضد درملو قلف کېدونکی خوندي صندوق [۱]

اکثره د افت ضد درمل د انسانانو، حيواناتو او چاپيريال لپاره زهرناک دي. د نه کاروني په وخت کي د افت ضد درملو سمه ساتنه د تصادفي مسموميدلو يا چاپيريالي خطرونو د مخنيوي لپاره يو مهم کار دی.

## د افت ضد درملو د خوندي ساتني لپاره لارښووني

- ټول د افت ضد درمل په يو قلف سوي صندوق کي چي هوا سم جريان پکښي ولري وساتئ.
    - o د مځکي د اوبو د خونديتوب لپاره بايد د افت ضد درملو د ساتني ځای کانکريټي فرش ولري او د نفوذ وړ نه وي، او بايد خاورين يا د لرګي نه وي.
    - o د ساتني ساحه بايد د افت ضد درملو صندوقونه له باران او لوړ لندبل څخه وساتي.
    - o د ساتني ساحه بايد د خواړو له ساحو څخه ليري وي. ډيری خواړه د افت ضد درملو ته د نژدېوالی په صورت کي کوچني کيمياوي ذرات جذبوي.




عام فهمه سمبولونه [۲]

- هيڅکله د افت ضد درمل په کورنيو لوښو کي مه اچوئ، په خاص ډول د خواړو او څښاک په لوښو کي.
- د ساتني د ساحي پر دباندنی برخه د خبرتيا نښه ونښلوئ ترڅو خلک يي له احتمالي خطر څخه خبر شي. يو عام فهمه سمبول پر ونښلوئ چي په آسانی سره خلک په وپوهيږي، لکه د سر کوپړی او هډوکي.
- وخت پر وخت د ساتل شوو افت ضد درملو ليدنه وکړئ او د ساتونکو لوښو د جوړوالي څخه اطمينان حاصل کړئ، چي درمل ځني راڅڅېدلي او يا سوري شوي نه وي.
- که چيري درمل ځني راڅڅېدلي او يا توی شوي وي، نو ژر تر ژره يي کنټرول کړئ او څڅېدلي درمل پاک کړئ. د هغي ساحي پر شاوخوا رسی را تاو کړئ ترڅو په تصادفي توګه د خلکو له ورننوتلو او له خطر سره د مخامخېدلو مخنيوی وشي.
    - o په ياد ولرئ چي د توی شوو افت ضد درملو تر پاکولو مخکي د ځان محافظتي کالي او اسباب واغوندئ.

## د افت ضد درملو په ساتلو کي عامي تېروتني



د څښاکو په بوتلونو کي د افت ضد درملو اچول د کوچنيانو لپاره يو خطر دی [۳]

- د افت ضد درملو ساتنه په هغو لوښو کي چي نښنه نه وي پر لګېدلي، او يا په هغو کورنيو لوښو کي چي بيرته استفاده ځني کيږي.
- په دواپاشونکي کي د افت ضد درملو پرېښوول.
    - o چي له امله يي د دواپاشونکي پرزې تخريب کيږي.
- په محافظتي اسبابو د ځان د سمبالولو پرته د ساتني په ساحه کي د توی شوو درملو پاکول.
    - o کېدای شي چي د تغليظ شوو افت ضد درملو زهرجن ګاز په هغه ساتونکي صندوق کي چي هوا پکښي سم جريان ونه لري، سره راټول شي او د کارګرانو لپاره ډېر خطرناکه واقع شي.

ترتيب کوونکي: فرانک زلوم، پات تامپسن، نهضت الله نهضت (پين)، مارک هيندرسن او مارک بيل، جولای ۲۰۰۹

**ماخذونه:** د کوچنيو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ۲۱۵۵۵ ګڼه
د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ۳۳۲٤ ګڼه

**د انځورونو کريډيټ:** [۱] د افت ضد درملو د کنټرولولو ښوونيز پروګرام – د کورنيل پراختيايي کوپراتيف، [۲] elversonpuzzle.com، [۳] د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال - د کاليفورنيا پوهنتون، آی پي ايم

**د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړيوال پروګرامونه: http://ip.ucdavis.edu

**د خپرولو حق د کاليفورنيا پوهنتون له ريجينټز ډاويس ځانګي سره، ۲۰۱۱. ټول حقوق خوندي دي.**